## شهید ډاکټرمرید احمد نثار

شهید ډاکټرمریداحمد نثار په ۱۳۴۰ هـ.ل کال په لوګر ولایت د پل علم اړوند دحصارک کلي دمرحوم حاجي بهرام خان کلا ؛ په یوه دینداره کورنۍ کې د نثار احمد خان کره، دې نړۍ ته سترګې وغړولې. کله چې رالوی شو، نو خپلې زده کړې یې د استقلال په لیسه کې پیل او بیاد هغه لیسې نه حربي ښونځي ته لاړاو په ۱۳۵۹ کال کې له حربي ښوونځي څخه فارغ او حربي پوهنتون ته شامل شو ،بیا د پیاده پوهنځي له دوهم ټولګۍ څخه د ننګرهار طب پوهنځي ته ولاړ او هلته یې خپل لوست ته دوام ورکړ.

اتل قوماندان شهید ډاکټرمرید احمد نثار دخپل زده کړې پر وخت د کمونست او ګوډاګي رژیم په مقابل کې یوزیات شمیر هیواد وال منظم او خپلو اسلامي و جیبو ته متوجه کړل. د دې په څنګ کې دډاکټر مرید احمد مشر ورور په کابل کې د چریکي عملیاتو پروګرامونه تر سره کول او کله چې د کمونست رژیم له خواه ونیول شو، نوډاکټر مرید احمد نثار د خپلو فعالیتونو ساحه محدوده وګڼله او په طب پوهنځي کې یې خپل تحصیلات پریښنو دل د ننګرهار له مجاهد ینو سره ملګری او عملاً په جهاد کې شریک شو.

ډاکټرمریداحمد د افغانستان د ملي اسلامي محاذ دیو وتلي مجاهد په توګه په نورو زیاتو جهادي عملیاتو سربیره د پکتیا ، خوست، لوګر ،دکټواز ولسوالۍ، دکابل په بالاحصار او په دارالمان کې پر (۱۵) بریالیو عملیاتو کې فعال رول لوبولي او دوخت دښمن ته یې زیات تاوانونه وراړولي ؤ. په ۱۳۶۵ کال چې د ده مشر ورور نصیر احمد خان نثار د شهادت لوړ مقام ته ورسید ، نو عملا د مجاهدینو د مشر تابه او قوماندانۍ چارې د ده غاړې ته ولویدې او د خپل اتل ورور په لیکه ګام پر ګام مخ په وړاندې روان ؤ، کله چې دغه اتل قوماندان له خپل جهادي ګروپ سره خپلې




سیمې لوګر ته روان ؤ، د ۱۳۶۶ لمریز کال د چنګاښ (سرطان) په۱۲ نیټه د ځائیو په لکړۍ سیمه کې د دښمن د هاوان د توپ د ګولۍ ښښه شو او د خپل ګروپ له دوو تنو نورو سر ښندنکو مجاهدینو سره یو ځای د شهادت لوړ مقام ته ورسید. روح یې ښاد او نوم یې تل یاد وي.

## افغانان سوله او دعلم پرمختګ غواړي

دڅولسیزو جنګ اوجګړو وروسته افغانان اوسمهال سولې ته لیوال دي، نه غواړي چې مخکنیو بدبختیو اوناخوالوته لمن ووهي، ځکه په افغانستان کې د پوهې اوعلم کچه تریواندازې لوړه شوې ده. د پوهې له برکته دافغانستان هر وګړی په دې پوه شویدي، چې د جنګ اوجګړو څخه څه نه جوړیږي، دوی دهیواد جوړونې، رغوونې او ملي پخلاینې لپاره هڅې او کوښښ کوي، ترڅو دغو موخو ته ځانونه ورسوي. دلنډمهاله حکومت په رامنځ ته کیدو او تردامهاله زیاتره افغانان په دې هڅه کې دي، چې څنګه هیواد د پرمختګ لورې ته بیوزي او دنورو ګاونډ هیوادونو سره ځانونه سیال کړي.

خوبیاهم همدا ګاونډهیوادونه دي، چې دهیواد په سیاسي چاروکې لاسوهنې کوي ، نه غواړي؛ افغانستان د سولې، امن، یوالې اوپرمختګ لورې ته ځان ورسوي. دخپلې ګټې دلاسته راوړولو په موخه دهرډول شومو کړنو او اعمالوته ځانونه رسوي. خوبیا افغان وګړي په دې پوره باور لري، چې د جنګ اوجګړې پرځای دروښانه اوپرمختللې افغانستان دجوړیدولپاره پوهه اوعلم ته زیاته اړتیا شته باید د پوهې او مطالعې لپاره کوښښ وکړو چې په ټولنه کې دمعارف ډیوې د روښانولو کلتور اوفرهنګ ځلانده وساتو ، په کلیو او بانډوکې دهر پوه او دسوادخاوند لپاره په کار دی؛ چې د علم اوپوهې په اړه تبلیغ په لار واچوي، په هغه ټولنه کې چې دمعرفت ډیوې ندي خورې شوي، باید اړوندې اداري او مسؤلین ورته دبې سوادي کورسونه او دښوونځیو په جوړولوکې لاس پرکارشي اوهغه ټولنې به دناخوالو اوبدبختیو څخه راووځي او دروښان فکرسره به ګران افغانستان آباد او سمسور کړي.

دعلم اوپوهې له برکته ټول کارونه که هغه په سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، او نورو برخوکې وي پرمخ ځي او په شته کارونو دیوهیواد ټول وګړي به په کارونو بوخت اومصروف وي او نورو بدبختیو ته وخت نه لري، چې خپل کلتورکې یې شامل کړي. لکه دیرش کاله پخوا افغانستان دیو جنګي کلتور په ډګربدل شوی ؤ ، چې الحمدالله اوس زمونږهیوادوال د پوهې څخه برخمن شوی، علم اوپوهه خپل کلتور ځان لپاره خوښوي. اصلي موخه دلته ده، چې دافغانستان ځوریدلي اوکړیدلي ولس ته نن لازم دی، چې نور د پردیو خلکو په خبرو ونه غولیږي، دهیواد ملي ګټو ته پاملرنه وکړي، د جنګ اوجګړو څخه لاس پرسرشي، سوله، امن او یوالي خپل اصلي موقف وګڼئ، د پوهې اوعلم زانګو په ټول افغانستان کې وښوروي، دنفاق، بدبختیو ټغرټول اودملي یوالي اصلي سمبول ووسي. نو افغانستان به دهغو هیوادونو په قطار کې ودریږي، کوم چې نن دنړۍ له هیوادونو سره، په سیاسي، ټکنالوژۍ او په قدرت ځان سیال ګڼي اوپرنورو هیوادونو خپل سیاسي قدرت چلوي.

ددې موخو؛ رسیدو ته افغانان سره ټول په یواتحاد ، اتفاق اویوغږ ووایي، چې مونږ نور جنګ نه غواړو ، سوله، پوهه او ملي یوالي غواړو.

په پای کې دا ووایو ،چې لوی خدای (ج) دې نورافغانستان له شته وو ناخوالو څخه خلاص کړي سوله دافغانستان په هرګوټ ګوټ کې راولي نور دافغانستان دافقر اوبیچارګۍ ته دپای ټکی کیږدي. دیوسو کاله، ډاډمن اویوموټې افغانستان په هیله.

شیرمحمدامیني «ستانکزی»

## آگاهی از قانون شناخت از حق خود با دیگران

جامعه که خواستار پیشرفت وترقی با شد وافراد جامعه دارای زنده گی آرام , مرفع وسعادت مند باشد بدون قواعد ومقررات یعنی قانون محال است.زنده گی آرام وبا آسایش باداشتن قانون دریک جامعه تحقق می یابد داشتن نظم به امنیت به ملامت همه اینها توسط قانون در یک جامعه به وجود میاید سوال اینجا است که آیا با داشتن قانون همه ارزش های معنوی ومادی یک جامعه یا اینکه یک کشور محفوظ میباشد نه یک جامعه در صورتی موفق بوده میتواند که قانون بالای افراد جامعه بدون در نظرداشت مسایل، انسانها ی قدرت مند وانسانهای ضعیف وبدون مسایل تعصبی تطبیق گردد.

چنانچه خداوند(ج) در قرانکریم در مورد اینکه افراد در نزد خداوند(ج) برتری از یک دیگر خود ندارند بجز از کسانیکه با تقوا هستند چنین در سوره هجرات آیت سیزدهم فرموده که ترجمه : اکرم ترین تان نزد خداوند(ج) با تقوا ترین تان است پس کسانیکه تقوا دارد واز فرمان خداوند (ج) اطاعت میکند بهترین انسانها است.

در قانون اساسی افغانستان در فصل دوم حقوق انسانی و وجایب اتباع در ماده (22) چنین گفته است (هر نوع تبعیض وامتیاز بین اتباع افغانستان ممنوع است اتباع افغانستان اعم از زن ومرد در برابر قانون دارای حقوق و وجایب مساوی میباشند ) در این صورت اگر این مطلب را کسی بداند از حقوق خود به اساس قانون دفاع کرده میتواند وحق خودرا میشناسد در تطبیق قانون به هیچ صورت تبعیض در اجتماع در مقابل انسان صورت گرفته نمیتواند یعنی کسی کار خوب را انجام دهد به منافع تمام جامع باشد باید بدون در نظرداشت مرد بودن ویا زن بودن ویا اینکه مربوط کدام نژاد ، قوم، یا زبان باشد باید تقدیر شود واگر کدام کار خراب کند بدون در نظرداشت مسایل فوق الزکر مجازات شود یعنی قانون بطور مثاویانه بالای افراد جامعه تطبیق شود.

تطبیق قانون در صورت امکان بزیر است که همه افراد جامعه از قانون با خبر باشند قانون را بدانند که کدام عمل برایش در قانون مشروع شده است وکدام عمل برایش در دقانون ممنوع قرار داده شده است وچه چیز حق دیگران است تا که به حق دیگران تجاوز نکند چنانچه بی خبری از قانون عضر بنداشته نمیشود به این ملحوظ آگاهی از قانون به هر شخص جامعه ضرور است تا که حق خود ودیگران را بشناسند ودر ضمن انسان تا وقتی آزاد است که به آزادی دیگران صدمه وارد ویا تجاوز نکند واگر تجاوز کند ازاد نیست . باید به اساس قانون مجازات شود بس قانون ضامن حقوق در جامعه است . اگر از قانون باخبر باشیم دارای زندگی خوب آرام وخوشحال میباشیم با شناخت از قانون میتوانیم که دارای یک خانوانده مترقی باشیم یعنی فرزند خوب برای جامعه تقدیم کنیم تا که مصدر خدمت برای جامعه شود ودیگر اینکه با آگاه بودن از قوانین حق مارا کسی تلف کرده نمیتواند واگر از قانون باخبر نباشیم واز آن پیروی نکنیم برای خود خانواده وجامعه خود ماشین غم میباشیم ومشکلات فراوان را در جامعه تولید میکنیم چنانچه امروز ما در جامعه خود عدم رعایت از قوانین روبرو هستیم وهر روز یک مشکل جدید را خلق میکنیم.

اگاهی از قانون باعث تشکیل یک جامعه خوب مترقی وآرام بدون اینکه کدام مشکل جامعه را تهدید کند وبسوی اضم حلال بکشاند دارا میباشم یک جامعه ارام ومرفع مترقی قانون است که بارعایت کردن وپزیرفتن قانون یک جامعه مترقی پیشرفت ودستیابی به تکنالوژی وعلوم مختلف در حرکت میباشد ودرضمن هر انسان که از قانون اگاهی داشته باشد متیواند وکیل مدافع حق خود باشد وبه اگاهی از قانون هیچ گاه فریب دیگران را نمیخورد واز حق خود در مقابل هر کس به خوبی دفاع کرده میتواند وهمچنان حق دیگران را تلف نمیکند .قانون فواید زیادی دارد با داشتن قانون در جامعه هیچ کس نمیتواند که به حق دیگران تجاوز کند وحق جامعه افراد خانواده همه وهمه محفوظ میباشد از بی نظمی. بی امنیتی . وبی عدالتی جلوگیری میشود وافراد در جامعه به حق یک دیگر خود احترام وارزش معنوی ومادی قایل میشوند در صورت که قانون تطبیق واز ان پیروی صورت گیرد.

هیچ وقت یک جامعه انار شی به سوی ترقی پیشرفت در حرکت نمی باشد میتوان گفت که جامعه بدون قانون اسان بدون روح است یعنی اینکه جسد انسان بدون روح چی فعالیت را انجام خواهد دادپس ساکن میشود وهلاک میگردد در جامعه که قانون نباشد جامعه به سوی هلاکت در حرکت میباشد به تدریج به طرف ذوال می رود پس قانون ارزش فوق العاده زیادی دارد.

چون روابط بیشتر می شود نیاز به قانون در عرصه های مختلف بیشتر میگردد ووظیفه هر یک از افراد جامعه است که از قانون پیروی کنند واز ان آگاهی داشته باشند.

باید که قانون پزیر باشیم تاکه دارای یک جامعه مرفع واز اینده درخشان باشیم واز این مشکلات کشور خود را به خوبی حل بسازیم به امید روزی که هریک ما قانون پزیر واز قانون اگاهی داشته باشیم ومدافع حق خود واز دیگران باشیم.

تهیه وترتیب کننده امین الله (صفا )

## ملي ناموس

نن دهرملت په نظرکې خپل ملي استقلال دیو ډیرلوی ناموس حیثیت لري اوله دښه لوی افتخاربل نشته. دغه مقصد لپاره خلک سرونه؛ ورکوي مالونه اولادونه قربانوي اوبې استقلاله ژوند ډیرلوی ذلت ګڼې، که چیرې ملي احساس اوملي شعورپه ډیرقوت موجودنه وای، نود استقلال قیمت به ډیرلږاودنیالویې امپراتورۍ به نه رنګیدې.

استعماربه دغسې بده قیافه نه درلوده اویوملت به دبل ملت ترسیورې لاندې خوشحال ؤ.

دغه ملي جشنونه چې هرمستقل ملت یې دخپل استقلال په یادکوي اوپه ډیرقدرورته ګوري دملیت تجلیل اواحترام په کې پروت دي اوهمدغه معنالري چې یوملت دبل ملت حاکمیت په ځان نشي منلی. مونږ باید په دې خبره ډیرفکروکړو چې ملي استقلال دملي احساس اوشعورمحصول دی، هرڅومره چې دغه حس قوي وي هغومره په زموږ استقلال هم قوي وي.

داستقلال ساتنه دملت دقوي جذبې ته ډیرشدید ضرورت لري که دغه احساس په یوه ملت کې کمزوری شې، هغه داستقلال په قدراو قیمت نه شي پوهیدلی اودهمدغسې ناپوهې په وجه دغه لوی نعمت ساتلی هم نه شي. موږ باید خپل امتیازات ملي شعوراوملي احساس ډیرټینګ وساتواودخپل استقلال تقویه ورپوري مربوطه وګڼو.